# خپل حقونه او مسؤلیتونه وپیژنئ

## ستاسو حقونه

### عادلانه چلند

- د WIC پروګرام کې د ورتیا او ګډون لپاره معیارونه د هرچا لپاره پرته له دې چې نژاد، رنګ، ملي اصل، جنسیت (د جنډر پیژندنې او جنسي تمایل په شمول)، معلولیت، عمر، یا د مدني حقونو د مخکینیو فعالیتونو لپاره غچ اخیستنه په پام کې ونیول شي یو شان دي.
- که تاسو د WIC لپاره وړ نه یاست، تاسو ته به دلیلونه په لیکلي ډول درکړل شي، او تاسو ته به د منصفانه اوریدنې لپاره د خپلو حقونو په اړه مشوره درکړل شي.

### محرمیت

- د WIC کارکوونکي به ستاسو معلومات شخصي وساتي. مخکې لدې چې WIC ستاسو د کورنۍ معلومات د WIC برنامې څخه بهر د هرچا سره شریک کړي ستاسو لیکلي تصویب ته اړتیا ده، په استثنا د هغه وخت چې د قانون لخوا اجازه ورکړل شوې وي.
- تاسو ممکن د یادونې متن پیغامونه، د تلیفون زنګونه، لیکونه، پوستي کارتونه، یا بریښنالیکونه ترلاسه کړئ. تاسو ممکن د دې یادونې د نه ترلاسه کولو غوښتنه وکړئ.

### تاسو به ترلاسه کړئ

- د WIC کټې، کوم چې تاسو کولی شئ د صحي خوړو سره د خپل میاشتني خوړو بودیجې بشپړولو لپاره وکاروئ.
- د مغذي رژیم او د مور شیدو تغذیې لپاره ګټورې لارښوونې.
- د شته نورو روغتیایی خدمتونو په اړه معلومات (لکه د روغتیا پاملرنې او معافیت)، او د دې خدمتونو د ځایونو په شمول.
- د دې لارښوونو او نورو خدمتونو کارولو ته هڅول.

### صادق اوسئ.

- د WIC کارکوونکو ته هر وخت د اوسنې او ریښتینې وړتیا معلومات چمتو کړئ.
- په سمدستي توګه ستاسو په عاید، د کورنۍ اندازه، پته، او/یا د تلیفون شمیره کې د هرډول بدلونونو راپور ورکړئ.
- د Medi-Cal, CalWORKS (TANF), او یا CalFresh لپاره ستاسو په وړتیا کې د کوم بدلون راپور ورکړئ.
- د خپل WIC کټې، خواړه، یا د ماشوم فارموله، په شخصي توګه، په یو ځا، یا آنلاین پلور یا یې د سوداګرۍ هڅه مه کوئ. تاسو ممکن د دې ډول سرغړونې لپاره بې برخې شئ.

### پاملرنه ولرئ

- کله چې تاسو بیا مهالویش ته اړتیا لرئ خپل د WIC ملاقاتونه وساتئ یا مخکې زنګ ووهئ.
- د WIC ټولو ملاقاتونو ته ټول غوښتل شوي اسناد راوړئ.
- د WIC کارمندانو او خوراکي توکو پلورنځي کارمندانو سره د پام سره او درناوي چلند وکړئ.
- د WIC دفتر یا د پرچون پلورنځي کې هیچا ته ګواښ یا فزیکي زیان مه رسوئ.

## ستاسو مسؤلیتونه

### د WIC مجاز خواړه وپیرئ

- دا مهمه ده چې هره میاشت ستاسو د WIC کټې وکاروئ.
- د WIC لخوا منل شوي خوراکي توکو پلورنځیو کې خپل د WIC کټې وکاروئ.
- هرکله چې تاسو د WIC خوړو لپاره پیرود کوئ خپل د WIC کارت د پرچون پلورنځي ته راوړئ.
- یوازې د WIC لخوا اجازه ورکړل شوي خواړه د خپلو WIC کټو سره وپیرئ.
- یوازې هغه ځاته خواړه وکاروئ چې په پروګرم کې شامل دي.

## زه پوهیږم...

- دا د تصدیق کولو فورمه د فدرالي مرستې ترلاسه کولو په تړاو سپارل کیږي. د پروګرام چارواکي ممکن چمتو شوي معلومات تایید کړي. زه پوهیږم چې په قصدي ډول غلط یا ګمراه کونکې بیان یا په قصدي ډول غلط بیان کول، پټول، یا د حقایقو ساتل ممکن د دولتي اداري د تادیه کولو، په نغدو پیسو، د خوړو ګټو ارزښت په ناسم ډول ما ته صادر کړي او ممکن ما د دولت او فدرالي قانون لاندې د مدني یا جرمي تعقیب تابع کړي.
- په WIC کې زما د ګډون په اړه معلومات ممکن د نورو دولتي برنامو سره شریک شي. دا پروګرامونه یوازې زما محرم معلومات کارولی شي:
  - د پوهاوي لپاره یا وګورئ چې زه د دوی خدماتو لپاره وړ یم.
  - په نورو پروګرامونو کې د WIC غوښتونکو او برخه اخیستونکو روغتیا، تعلیم، یا هوساینې ښه کولو لپاره.
  - د پرواګرامونو طرزالعملونو ساده کولو لپاره.
  - د دې معلومولو لپاره چې د California روغتیا سیستم څنګه د برخه اخیستونکو اړتیاو ته ځواب ووایي.

- ∘ د هغو پروګرامونو لیست چې د ریاست روغتیا افسر زما د کورنۍ د محرم WIC معلوماتو ترلاسه کولو لپاره تصویب کړی دی زما د غوښتنلیک په موادو کې شامل دی. دا لیست په https://myfamily.wic.ca.gov/Home/DataSharing کې د لاس رسنې وړ دی.
- دوه ګونې کوپون (په یو وخت کې له یو څخه د WIC دفتر څخه د ګټو ترلاسه کول) غیرقانوني دي او کیدای شي د WIC څخه وباسل شئ.
- که ما ته وویل شي چې زه د WIC لپاره وړ نه یم، ما ته به په لیکلي ډول دلایل راکړل شي.
- زه کولی شم د WIC دفتر لخوا زما د وړتیا په اړه د هرې پریکړې په اړه اپیل وکړم.
- زه به د 15 ورځو خبرتیا ترلاسه کړم که چیرې زما تصدیق پای ته ورسیږي، یا که چیرې زه د پروګرام څخه پای ته رسیدو په حال کې یم.
- که زه له بل ځای څخه وغواړم چې د WIC اړوند فعالیت کې زما ځای ونیسي، زه به دوی ته دا حقونه او مسؤلیتونه تشریح کړم.
- که زه پلان ولرم چې حرکت وکړم، زه کولی شم خپل د WIC ګټې انتقال کړم، او زما د WIC دفتر کولی شي زما سره کاغذي کار کې مرسته وکړي.

## د WIC پروګرام تبعیض نه کوي

د فدرال د مدني حقونو د قانون او متحده ایالاتو د کرنې وزارت (USDA) د مدني حقونو مقرراتو او پالیسیو سره سم، دا اداره د نسل، رنګ، ملي مبدا، جنسیت (د جنسي هویت او جنسي تمایل پشمول)، معلولیت، عمر پر اساس د غچ اخیستنې د تبعیض یا د مخکینې مدني حقونو د فعالیت لامله د انتقام یا غچ اخیستنې څخه منع کیږي.

د دې پروګرام په هکله معلومات ښایي په غیر انګلیسي ژبو کې هم شتون ولري. معلولیت لرونکي کسان چې د دې پروګرام د ترلاسه کولو لپاره د مخابرې بدیلو وسیلو ته اړتیا لري (لکه، بریلي، غټ چاپ، آډیو ټیپ، امریکایي اشارې ژبه)، هغوی باید د هغه مسؤل ایالت یا محلي اژانس سره اړیکه ونیسي، کوم چې دا پروګرام مدیریت کوي یا د USDA TARGET مرکز سره دې په
(202) 720-2600 اړیکه ونیسي (غږ او ټي ټي وای) یا دې د USDA سره د فدرالي ریلې د خدمت له لارې په 877-8339 (800) اړیکه ونیسي.

په دې پروګرام کې د تبعیض د شکایت ثبتولو لپاره باید شکایت کوونکی د AD-3027 فورمه، د USDA د پروګرام د تبعیض د شکایت فورمه بشپړه کړي، چې دغه فورمه آنلاین په دې ادرس شتون لري: https://www.usda.gov/sites/default/files/documents/ad-3027.pdf

د USDA د هر دفتر څخه، یا 632-9992 (866) ته په زنګ وهلو سره، یا د USDA په ادرس په لیک استولو سره دا فورمه ترلاسه کولی شئ. په دغه لیک کې باید د شکایت کوونکي نوم، ادرس، د تلیفون شمیره او د ادعا شوي تبعیضي چلند په اړه مناسب معلومات موجود وي څو د مدني حقونو مرستیال سکرتر (ASCR) د ادعا شوي مدني حقونو د سرغړونې د ماهیت او نیټې څخه خبر شي. د AD-3027 بشپړ شوي فورمه یا لیک باید USDA (د امریکې د متحده ایالاتو د کرنې وزارت) ته په لاندینۍ پتې ته واستول شوي.

**1. پوستي ادرس:**
U.S. Department of Agriculture
Office of the Assistant Secretary for Civil Rights
1400 Independence Avenue, SW
Washington, D.C. 20250-9410; یا

**2. فکس:**
(833) 256-1665 یا (202) 690-7742; یا

**3. بریښنالیک:**
Program.Intake@usda.gov

دغه اداره د مساوي فرصتونو برابرولو اداره ده.

**ما دا ټول سند لوستلی دی. ما ته په پروګرام کې د خپلو حقونو او مسؤلیتونو په اړه مشوره راکړل شوې ده. ټولې پوښتنې چې ما درلودې (که کومې وې) زما د اطمینان سره سم ځواب شوې. زه تصدیق کوم چې معلومات زما د غوره پوهې سره سم او ریښتیني دي.**

| د کورنۍ د استازي/پالونکي لاسلیک | نیټه | [Family ID] |
|---|---|---|

**Staff Use Only:** ☐ Local agency staff has reviewed the *Know Your Rights and Responsibilities* form with the family representative/caretaker, and any and all questions have been answered to their satisfaction.